**د ټرمپ ګواښونو نړۍ ولړزوله - امپریالیزم ، بازار او ولسی تاوان:**
**ژباړه او لنډیز : امیرګران**

دوشنبه ، د اپریل د میاشتی ۸ مه ، ۲۰۲۵ م کال
یو ځل بیا ، د سرمایې نړیوال بازارونه د یوې واکمنی لوبې قرباني شول ، دا ځل نه یوازې وال سټریټ (Wall Street )ولړزېد بلکه د نیویارک له لوړو ودانیو تر کابل پورې هری سترګی د شتمنیو د لوېدو ننداره وکړه ، دا ورځ ، چې اوس ورته « توره دوشنبه یا« Black Monday ویل کېږي ، د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ د مالیاتو او تعرفو یا محصولاتو د ګواښونو له امله رامنځته شوه — خو دا یوازې اعلان نه وو ، دا د امپریالستي بازار یوه بله بې رحمه څپه وه .
ټرمپ ګواښ وکړ ، که چین د اپرېل د میاشتی تر ۸ می نېټی پورې پر امریکایي توکو لګول شوي ۳۴ سلنه مالیات لیری نه کړی ، نو امریکا به د اپرېل له ۹ می نېټی څخه پر چین ۵۰ سلنه نوری تعرفې یا Tariffولګوي. یعنې دا چې د امریکا له خوا پر چیني وارداتو ټولټال ۱۰۴ سلنه مالیات ولګول شي .
د دې تحارتی جنګ اعلان له امله په یوه ورځ کې د نړۍ د ونډو یا اسهامو ( Stocks ) بازارونه په ګونډو کړل، تریلیونه ډالره پانګه له منځه لاړه او د تیلو بیه په تېرو پنځو کلونو کې تر ټولو ټیټې سطحې ته ښکته شوه ، او هم ورسره د ډالرو ارزښت هم راولوېد ، دا تاوان د شتمنو حساب ته نه ، بلکه د ولس پر اوږو بارېږی.
ظاهراً دا یوه تجارتي شخړه او جګړه ده خو که ژور وګورو ، دا د امپریالیزم هغه بڼه ده چې نړیوال بازارونه د څو شرکتونو ، څو بډایه هېوادونو او څو واکمنو لاسونو ته تسلیموي ، دا بحران یوازې د ارقامو او ګرافونو خبره نه ده ، بلکې د هغو ملیونونو خلکو د ژوند خبره ده چې د هر بحران تاوان یې د انفلاسیون ، بې‌کارۍ او بی‌ثباتۍ په بڼه تر اوږو رسیږی .

چین، چې تر دې وړاندې هم د نړیوالې سوداګرۍ د عدالت شعار ورکاوه ، د نړیوالی سوداګرۍ سازمان WTOته د قضیې د وړلو او بحث کولو اعلان کړی ، اروپایي هېوادونه د خپل ځان د ژغورلو لپاره نویو تګلارو ته مخه کړې ، خو د جنوبی آسیا هېوادونه ، لا هم د فیصلو پر څنډه ولاړ دي ، نه پرېکړه لري او نه تګلاره.
زموږ د هیواد اقتصادی پالیسی باید ولس محوره وی نه د نړیوال بانک ، نړیوال وجهی صندوق (IMF ) یا د وال سټریټ Wall Street د خوښې پر بنسټ ، دا فرصت دی ، چې د بازار له اسارت نه د خپل اقتصاد د ژغورلو لپاره یو ولس‌محوره ، خپلواک اقتصادي فکر ته وده ورکړو ، همدا ډول بحرانونه دي چې تاریخ رامنځته کوي — که خلک ویښ وي ، دا بحرانونه د ویښتابه او بیدارۍ زنګونه ګرځي ، که نه ، بیا دا همداسې د تاریخ یو « تور فصل یا Black Chapter پاتې کیږی ،
امیرګران.